دافغانستان اسلامی جمهوریت
د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون

جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

---

## مطبوعاتی خبرپاڼه

### د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د ولایتی شورا دوه کاندیدان له کاندیدیدلو څخه بی برخی کوی

**۳۰ چنګاښ، ۱۳۸۸**

تقریبا د کمپاین نیمه مرحله تیره ده، او د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون ټول ۱۴۸ شکایتونه ترلاسه کړل. ۴۶ شکایتونه د ولسمشرۍ د سیالی په اړه درج شوی. په دی کی د شکایتونو تر ټولو مهمی موضوع ګانی په لاندی ډول دی:

- د کاندید لخواد جنایي اعمالو تورونه
- د ګټو مخالفت ( د یوه کاندید لپاره د دولتی چارواکو ناوړه کمپاین)
- د دولتی سرچینو ناوړه کارونه
-

له ټولو ۱۴۸ درج شوی شکایتونو څخه، ۴۸ قضیی د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون لخوا په مرکزی دفتر کی وڅیړل شوی. د پایلی په توګه د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون دوه د ولایتی شوری کاندیدان له منع شوی دولتی مقام څخه د استعفی د نه ورکولو له کبله له لست څخه وویستل. یو کاندید له نیمروز ولایت څخه دی او بل له کونړ څخه. سربیره پر دی، د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون یو کاندید په یوه ټلویزیونی پروګرام د یوه بل کاندید پر وقار باندی د حملی له کبله جریمه کړی دی. دغه پریکړی او همدا رنګه د اعتراضونو په اړه پریکړو ته د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون ویبپاڼی www.ecc.org.af له لاری لاسرسی لرلی شی.

د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون نوری قضیی له دی امله چی یا انتخاباتی شکایتونو د کمیسیون د کاری ساحی نه بهر وی یا د سرغړونی په اړه قانع کوونکی او واضح شواهد یی نه درلودل رد کړل. د یادولو وړ ده چی د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون په کندهار کی له وخت نه د مخه کمپاین یوه قضیه او په دی اړه اړوند د فزیکی برید قضیه وڅیړله مګر داسی سرغړونی یی ونه موندلی چی د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون په کاری ساحه کی وی.
د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د داسی ادعاو څیړنی هم ترسره کړی چی د یوه رسمی شکایت برخه نه وی مګر د رسنیو یا د نورو سرچینو له لوری رپوټ شوی وی. په ځینی قضیو کی، دغسی څیړنی لا تراوسه روانی دی. په نورو قضیو کی، د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون دا وموندله چی ترلاسه شوی شواهد ادعاوی نه تاییدوی.

دانتخاباتی شکایتونو کمیسیون له شکایت کوونکو څخه دا غوښتنه کوی چی د خپلو شکایتونو تشریحات له کافی معلوماتو او شواهدو سره مل کړی او د اوازو او انګازو پر بنسټ د شکایتونو له سپارلو څخه ډډه وکړی.

د لا نورو معلوماتو لپاره له:

احمد مسلم خرم
ahmad.muslem@ecc.org.af
+93 (0) 798188605
سره اړیکه ونیسی.

جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

ECC

د افغانستان اسلامی جمهوریت
د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

| Province Code | Number of Complaints | Against Presidential | Against Provincial Council | Against Other Respondents |
|---|---|---|---|---|
| 00 HQ | 36 | 11 | 3 | 22 |
| 01 Kabul | 38 | 21 | 3 | 14 |
| 02 Kapisa | 2 | 0 | 2 | 0 |
| 03 Parwan | 2 | 0 | 0 | 2 |
| 04 Wardak | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 05 Logar | 2 | 0 | 2 | 0 |
| 06 Ghazni | 2 | 0 | 2 | 0 |
| 07 Paktiya | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 08 Paktika | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 09 Khost | 1 | 1 | 0 | 0 |
| 10 Nangarhar | 6 | 1 | 4 | 1 |
| 11 Kunar | 6 | 0 | 6 | 0 |
| 12 Laghman | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 13 Nuristan | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 14 Badakhshan | 11 | 0 | 1 | 10 |
| 15 Takhar | 7 | 3 | 4 | 0 |
| 16 Baghlan | 3 | 2 | 0 | 1 |
| 17 Kunduz | 4 | 0 | 3 | 1 |
| 18 Samangan | 2 | 0 | 2 | 0 |
| 19 Balkh | 2 | 2 | 0 | 0 |
| 20 Jawzjan | 3 | 0 | 0 | 3 |
| 21 Sar-e-Pol | 2 | 0 | 2 | 0 |
| 22 Faryab | 2 | 0 | 0 | 2 |
| 23 Badghis | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 24 Herat | 2 | 2 | 0 | 0 |
| 25 Farah | 2 | 1 | 1 | 0 |
| 26 Nimrooz | 1 | 0 | 0 | 1 |
| 27 Helmand | 1 | 0 | 0 | 1 |
| 28 Kandahar | 3 | 2 | 0 | 1 |
| 29 Zabul | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 30 Oruzgan | 3 | 0 | 2 | 1 |
| 31 Ghor | 3 | 0 | 0 | 3 |
| 32 Bamyan | 2 | 0 | 2 | 0 |
| 33 Panjsher | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 34 Daikundi | 0 | 0 | 0 | 0 |
| Total | 148 | 46 | 39 | 63 |